غفور لیوال
۲۶/۱۲/۲۰۱۲

# د ودانۍ ټیم، پروژې او پروسې

زما یو ښاغلی دوست دی، چې د هېواد په اړه ښه نظریات لري، یو ځای مو په اروپاکې په یوه نړیواله غونډه کې ګډون کړی و، همدلته زماملګري وویل چې د افغانستان لپاره دا بهیر ښایي د یوې پروژې په توګه نه، بلکې د یوې پروسې په توګه پرمخ ولاړ شي. هغه ریښتیا ویل او خبرې یې دې ته متوجه کړم، چې ګڼې چارې د پروژو په چوکاټ کې مخ په ورانۍ روانې دي. راځئ وګورو چې څنګه؟

**پروژه څه ده ؟**

پروژه د انګریزی له ( Project ) څخه اخیستل شوې ده او لاتینه ریښه لري، له دوو برخو رغېدلې کلیمه ده یعنې پرو ( Pro ) د وړاندې په مانه او (ject) په ځانګړي رنګ د نقشه شوي یا غورځول شوي په مانا ده. د پروژې اصطلاحي مانا: د هغو لنډ مهاله فعالیتونو مجموعه ده، چې د یو ټاکلي هدف لپاره د ځانګړیو وسایلو په کارولو ترسره کیږي.

پروژې (په دغې ځانګړې مانا) د مادي او فزیکي رغوونې او بیا رغوونې په برخه کې د نادولتي موسسو له خوا افغانستان ته راننو تې، چې زه یې په اغیزمنتیا یا نا اغیزمنتیا نه غږیږم، خو وروسته بیا پروژوي فعالیتونه تر فزیکي او مادي جوړښتونو ور واوښتې او ملي مسایلو ته یې ځان ورساوه، په دې مانا چې د حکومت جوړونې، ډیموکراسۍ، د بیان آزادي، بشري حقونو، سیاسي بنسټ جوړونې ا و آن تر سولې او پخلاینې پورې موسمي پروژې رامنځته شوې یوه موده به ښې په درز کې وچلیدې او بیا به ورکې شوې، زما ښه په یاد دي په تیرو لس دولسو کلونو کې اول دبیارغوونې پروژې پیل شوې. یوشمېرموسسو په دې برخه کې کارپیل کړ او پروژې یې وچلولې، بیا د بیان آزادۍ بازار ګرم شو، هماغه خلک او هماغه موسسې ټولې نشراتي او تبلیغاتي شوې، انجنیران یې ژورنالیستان شول او د بیان د آزادۍ پروژې یې ښې ګرمې وچلولې، بیا چې دا بازار سوړ شو د بشري حقونو وار راغی ټول ژورنالیست شوي انجنیران دا ځل حقوقپوهان شول او د بشري حقونو پروژې یې پیل کړلې، تر دې وروسته د دیموکراسۍ، انتخاباتو او ... پروسې پیل شوې بیا هم هماغه څیرې او هماغه پروژې تر دې چې د مدني ټولنې مفهوم ارزښت وموند، چې کټل دې هماغه (حقوقپوه، ژورنالیست، انجنیر ...) په دې کې هم راګرم شو او د مدني ټولنې لوحې یې پر سر ونیولې تر دې عجیبه خویې لا دا ده چې اوس د سولې په پروژو کې هم دوی بوخت دي او سر ګرولو ته وخت نه لري. زموږ یې له دوی سره کار نشته، خو درد دلته دی چې د پروژو ماهرین په اول سر کې نوي حکومت ته هم ښه پریمانه ورننوتل او د بېسواده یا کمسواده شلو مېلیونرانو د انحصاري سیستم بادې یې جوړه کړه، دوی د لوستیو او آن د متخصصو افغانانو اکټ پیل کړ او د شلو مېلیونرانو د انحصار ماشین یې چالان کړ، له دوی څخه د ځینو کمال یې داو، چې په انګریزی او کمپیوټر پوهېدل، نن سبا خو انګریزي او کمپیوټر د علم لدن ځای لري، بس چې په دې دواړو پوهېدې، جامع الکمالات یې، نور نو پرمخ ځه! دوی چې له پروژو سره را لوی شوي وو او ماهیت یې پر پروژوي کارونو ولاړ ، ټولې ملي پروسې ټوټه ټوټه کړې او د پروژو په چوکاټونو کې یې سره وویشلې، په دې توګه یې د ولسواکۍ، ودانۍ، پرمختګ، نظام جوړولو او لویو ملي پلان جوړولو پر تابوتونو میخونه ټک وهل. شلو مېلیونرانو د پروژو له ماهرینو سره جوړ جاړی وکړ او د فنډ ( fund ) (په ویش کې ورسره شریکان شول حکومت جوړول، سوله راوستل، خدمات، تولید او هر څه په پروژو وویشل شول او د ولس و هېواد بر خلیک په وړو وړو پروژو کې مړی مړی د شلو مېلیونرانو تر ستوني تیر شو او څه خاشاک یې د پروژو جامع الکمالات ماهرینو ته هم وروررسېدل.

**پروسه څه ده ؟**

پروسه هم د انګریزی له ( Process ) څخه اخیستل شوې ده، چې د پرله پسې او یو په بل پورې تړلیو فعالیتونو هغې مجموعې ته ویل کیږي، چې د اوږد مهاله او بنسټیزو پایلو د ترلاسه کولو لپاره عملي کیږي.

موږ د خپلو سیاستونو او هېواد رغوونې لپاره پروسو ته اړتیا لرو، چې په علمي او عملي بنیادونو پلان شوې وي، ګڼ څواکونه په کې ګډون ولري، د پرله پسې او یو د بل د بشپړوونکیو بهیرونو په پایله کې یوې لوی او اغیزمن بدلون رامنځته کړای شي. په پروسوکې باید ټول بشري ځواک، حکومتي او نا حکومتي بنسټونه، نړیوالې مرستې او


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

امکانات په بشپړه همغږۍ کې په ګډه سره کار وکړي، چې یو د بل مرستیال او همکاروي، نـه د بېلا بېلو ټاپوګانو پـه څېر چې یوله بله سره په بېخبرۍ کې لګیاوي او په دې هم نه پوهېږي، چې پرتـه لـه فنډ اخیستلو بل څـه هم شته چې وېې کړي که نه؟
پروژوي سیاست تصادفي نه دی راغلی، بلکې د شلومېلیونرانو د ګټو لپاره په لوی لاس د یوې پروژې پـه توګـه جوړ شوی دی، هغه ګډوډي او انارشي، چې پـه هره برخـه کې د پروژوي جوړښتونو لـه املـه رامنځتـه شوې ده، د شلو مېلیونرانو لپاره یې د ټولو انحصارونو زمینه برابره کړې ده.
د ودانۍ د ټیم لپاره تر ټولو لوی کار دا دی چې د هېواد د ژغورنې لپاره پر لویو او ملـي علمي پروسو کـار او فکر وکړي.

**یوه بېلګه :**

لـه ازبکستان یا بل ستان څخـه د برېښنا اخیستل او تـر کابلـه یـې رالېږدول یوه پروژه ده، چې هم یـې د اخیستو پـه قراردادونو او هم یې درالېږدولو په قراردادونو کې انحصار ګرو مېلیونرانو او د هغوی پروژوي خاشاک خورو تـه ګټه رسېږي، خو پر کوکچه، کونړ، آمو، هېلمند یا بل سیند بند جوړول یوه پروسه ده. ولې؟ ځکه:
پر یوه ملي سیند باید د بند جوړولو بهیر له څو اړخونو ګټور وي: لومړی برېښنا تولید کړي او بیا له بند څخـه واړه او غټ نهرونه وایستل شي چې شاړې او بې اوبو زمکې خروب کړي، په ځینو ځایونو کې ښایي د کبانو د روزلو ډنډونه جوړ شي، د نهرونو پر غاړو په لکونو ونې کېښودل شي او د سیند غاړې پخې شي، کله چې د کرنـې محصولات ډېر شول د هغو د سم مصرف او یا پروسس لارې چارې باید لـه وختـه سنجول شوې وي. پـه دې ټولـه پروسـه کې د اینرژۍ تولید، د کرنې وده، صنعتي تولید ته لاره هوارول، د خلکو بوخت کېدل (اشتغال) ایکولوژۍ تـه پام، چاپېریال ساتنه او طبیعي ښکلایي د پایلو او لاسته راوړنو په توګه شمارلی شو، په دې ملي پروسه کې ښایي د اوبو او برېښنا، کرنې، فواید عامې، اقتصاد، چاپېریال ساتنې، تجارت، صنایعو وزارتونـه، پوهنتونونو، جیودوزۍ، لارو جوړولو او آن اطلاعات و فرهنګ بنسټونه ګډ او هماهنګه کار وکړي، ایلـه بـه د افغانستان د خلکو پـه ژوند کې لـه یوه اړخه بدلون راشي.
داسي پروسې هغه مهال رامنځته کېدای شي چې د پروژوي فعالیتونو او له هغو څخه د انحصارګرو مېلیونرانو د ګټـې اخیستنې اعتیاد ته د پای ټکی کېښودل شي او هېواد د لویو ملی پروسو د بشپړولو بهیر تـه ورننوځي، دا کار د ودانـۍ ټیم کولای شي.

**د دې چارې لپاره لوی ګامونه دا دي:**

د لویو ملـي پرمختیـایي پروسو علمـي پـلان جوړونـه، چـې د افغانستان لـه شرایطو او امکانـاتو سره سم عملـي وي.
خلکـو تـه د دې پروسو ورپېژندنـه، چـې د ترسـره کولـو لپـاره یـې ولسـي ملاتـړ تـر لاسـه شـي.
د ودانـۍ د ټیم لـه خـوا د پروسو د عملي کولـو د ځـواک مونـدلو لپـاره منظمـه ملـي مبـارزه او هلـې ځلـې پیلـول.
او بالاخره د مېلیونرانو قانع کول چې هم په خپله او هم یې خاشاک خواره ملاتړي د دې لویو پروسو د عملي کېدو پـه مرستندویانو بدل شي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ